**د واکسینو معلوماتي بیانیه**

Many Vaccine Information Statements are available in Pashto and other languages. See www.immunize.org/vis

د واکسین معلوماتو ډېرې بیانیې په پښتو او نورو ژبو موجود دي. www.immunize.org/vis وګورئ

# د ریبیز واکسین:
## هغه څه چې تاسو یې په اړه باید پوهه شئ

## 1. ولې باید واکسین وکړو؟

**ریبیز واکسین د ریبیز** (لیوني سپي داړل) څخه مخنیوي کوي.

ریبیز یو جدي ناروغي ده چې تل بې پاملرنې په مرګ بدلیږي.

ریبیز ویروس د مرکزي عصب سیستم باندې اغیزه کوي. علایم ښایي د ورز څخه تر کلونو پورې د ویروس سره مخ کېدو وروسته رامنځته شي او دیلیریم (تشویش)، غیرنورمال چلند، توهمات، هایدورفیبیا، (د اوبو څخه وېره) او بې خوبي (خوب کولو کې مشکلات) پکې شامل دي چې دا علایم د بې هوشۍ او مرګ څخه مخکښې رامنځته کیږي.

خلک ښایي په ریبیز ویروس اخته شي که چیرې دوي د اخته شوي ځاروي لعاب یا عصبي نسج سره اړیکه ولري، د بېلګې په توګه د داړلو یا ورسره د ګرېدلو له لارې، او د ریبیز د واکسینو په شمول مناسب طبي پاملرنې ترلاسه نه کړي.

## 2. د ریبیز واکسین

**ځیني خلک چې د ریبیز سره د مخ کېدو لوړ خطر لري، لکه هغه کسان چې د احتمالي اخته ځاروېو سره کار کوي، سپارښتنه ورته کیږي چې واکسین وکړي** ترڅو د ریبیز مخنیوی وشي که چیرې ورسره مخ شي. که چیرې تاسو د ریبیز ویروس سره د مخ کېدو لوړ خطر لرئ:

- تاسو باید د مخ کېدو په 0 او 7 ورځو کې 2 ډوزونه ترلاسه کړئ.
- ستاسو د خطر کچې ته په لیدو سره، تاسو ته به مشوره درکړل شي چې ښو یا څو د ویني معاینات وکړئ یا د 2 ډوزونو وروسته د بوسټر ډوز په 3 کلونو کې دننه وکړئ. ستاسو روغتیاپال کولی شي په دې اړه تاسو ته ډېر معلومات درکړي.

**د ریبیز واکسین د ریبیز څخه مخنیوي کولی شي که چیرې هغه کس ته ورکړل شي چې د ویروس سره مخ شوی وي.** د مخ کېدو وروسته یا د ریبیز سره د احتمالي مخ کېدو وروسته، د زخم ځای باید د صابن او اوبو سره په بشپړه توګه پاک شي. که چیرې روغتیا پال یا د روغتیا ځایي اداره د واکسین کولو سپارښتنه کوي، د مخ کېدو وروسته واکسین باید ژر تر ژره ورکړل شي خو ښایي د علایم راښکاره کېدو دمخه چې هرکله وی اغیزمن دي. یو ځل چې علایم راښکاره شي، د ریبیز واکسین د ریبیز څخه د مخنیوی کې ګټور نه شي کیدی.

- که چیرې تاسو په مخکې وختونو کې د ریبیز پر وړاندې نه یې واکسین شوي، تاسو د 2 اونیو په ترڅه کې 4 ډوزونو ته اړتیا لرئ (په 0، 3، 7 او 14 ورځې باندې ورکول کیږي). تاسو باید په هغه ورځ چې تاسو د ریبیز واکسین لومړی ډوز ترلاسه کوئ یا لږ وروسته د ریبیز امونوګلوبولین په نوم یو بل درمل هم واخلئ.
- که تاسو په تیرو وختونو کې د ریبیز واکسین ترلاسه کړی وي، نو تاسو په عموم ډول د مخ کېدو وروسته د ریبیز واکسین یوازې 2 ډوزونو ته اړتیا لرئ.

د ریبیز واکسین ښایي د نورو واکسینونو سره په ورته وخت کې ورکړل شي.

## 3. له خپل روغتیاپال سره خبرې وکړئ

د واکسینو چمتو کوونکي ته خبر ورکړئ که چیرې واکسین کوونکي شخص:

- **د ریبیز واکسین د مخکینی دوز وروسته حساسیت درلودلی وي، یا کوم سخت، د ژوند ګواښونکي حساسیت ولري**
- **د معافیت کمزوري سیستم لري**
- **د کلوروکوین (chloroquine) درمل اخلي یا پلان لري چې واییخلي یا هغه درمل چې د کلوروکوین (chloroquine) سره تړاو لري**
- **د ریبیز واکسین یې په تیر وختونو کې لګولي** (ستاسو چمتو کونکی به وغواړي پوه شي چې تاسو کله د ریبیز واکسینو ډوزونه ترلاسه کړي دی)

په ځینو مواردو کې، ستاسو روغتیاپال ښایي د (د مخ کېدو دمخه) ریبیز واکسین تر راتلونکي لیدني پورې وځنډوي. یا ستاسو د روغتیاپال ښایي د ویني یوه معاینه وکړي مخکې یا وروسته د ریبیز واکسین ورکولو ترڅو ستاسو د معافیت کچه د ریبیز پر وړاندې معلومه کړي.



U.S. Department of Health and Human Services
Centers for Disease Control and Prevention

د زکام په څېر د کوچنیو ناروغیو لرونکي خلک هم کولی شي واکسین وکړي. هغه خلک چې معتدل یا سخت ناروغه وي باید معمولا تر هغه وخته پورې انتظار وکړي چې دوی د ریبیز واکسین د معمول (د مخ کېدو دمخه) دوز تر لاسه کولو دمخه روغ شي. **که چېرې تاسو ریبیز ویروس سره مخ شوي یاست، تاسو باید واکسین وکړئ د هممهاله ناروغۍ، امیندواري، ماشوم ته تې ورکول، یا کمزوري معافیتي سیستم په نظر کې نیولو پرته.**

ستاسو روغتیاپال کولی شي په دې اړه تاسو ته ډېر معلومات درکړي.

## 4. د واکسینو د غبرګون خطرونه

د سرنج کولو په ځای کې درد، سوروالی، پړسوب، یا خارښ، او د سر درد، زړه بدوالی، د معدې درد، د عضلاتو درد، یا سرخوږی، د ریبیز واکسین کولو وروسته رامنځته کیدی شي.
کندو، په مفصلونو کې درد، یا تبه کله نا کله د بوسټر دوزونو څخه وروسته رامنځته کیدی شي.

خلک ځیني وختونه د واکسینو په ګډون له ځینو روغتیایي پروسو وروسته بې هوښه کیږي. که په تاسو سرګرځېدلي وي، یا مو په لیدو کې بدلون راغلی وي یا مو په غوږ کې زنګاري وي، په اړه یې خپل روغتیاپال ته وواياست.

لکه د نورو درملو په څېر، واکسین هم په ډېر نادره توګه له سخت حساسیت، نورو جدي ټپونو، یا مړینې سبب ګرځېدای شي.

## 5. که جدي ستونزه رامنځته شي څه به کېږي؟

یو حساسیتي غبرګون کېدای شي هغه مهال رامنځته شي چې کله واکسین شوی کس له کلینیک څخه ووځي. که تاسو د جدي غبرګون علایم لکه (ټپونه، د مخ او ستوني پړسوب، تنفسي ستونزې، د زړه تیز ضربان، سټریا، یا کمزوري) ولیدلي نو، **9-1-1** شمېرې ته زنګ ووهئ او اړونده شخص تر ټولو نږدې روغتون ته انتقال کړئ.

که نور داسې علایم لرئ چې تاسو ته اندېښنه پیدا کوي، خپل روغتیاپال ته زنګ ووهئ.

د ضرري غبرګونونو په اړه باید د Vaccine Adverse Event Reporting System د (واکسینو ضرري پېښو د راپور سیستم) (VAERS) ته راپور ورکړل شي. ستاسو روغتیاپال زیاتره دا ډول راپورونه ثبتوي، یا تاسو خپله باید دا کار وکړئ. له VAERS وېب سایټ څخه په دې پته لیدنه وکړئ [www.vaers.hhs.gov](http://www.vaers.hhs.gov) یا دې شمېرې ته زنګ ووهئ **1-800-822-7967**. *VAERS یوازې د غبرګون په اړه د راپور ورکولو لپاره دی، او د VAERS کارکوونکي روغتیایي مشورې نه ورکوي.*

## 6. څرنګه کولی شم نور معلومات لاسته راوړم؟

له خپل روغتیاپال څخه پوښتنې وکړئ.
خپلې ځايي یا ایالتي روغتیايي څانګې ته زنګ ووهئ.
د واکسینو په اړه د معلوماتي پاڼي او نورو معلوماتو د تر لاسه کولو لپاره د Food and Drug Administration (FDA) (د خوړو او درملو اداره) [www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines](http://www.fda.gov/vaccines-blood-biologics/vaccines)
له لارې د خوړو او درملو اداری (FDA) وېب پاڼې ته ورشئ.
د Centers for Disease Control and Prevention (ناروغیو د کنټرول او مخنیوي مرکز) (CDC) سره په اړیکه کې شئ:
- (1-800-CDC-INFO) 1-800-232-4636 ته زنګ ووهئ یا
- د CDC ریبیز وېب پاڼې څخه لیدنه وکړئ په [www.cdc.gov/rabies](http://www.cdc.gov/rabies)

د طبي پاملرن ه )نې( چمتو کونکو ته د واکسین کولو دقیق وضعیت معلوماتو، د واکسی ن کولو ارزونه، او د راتلونکي وخت واکسین کولو لپاره و ړاندیز شوی مهالویش اجازه ورکولو لپاره، معلومات به د میشیګان پاملرن ې ښه والي ثبتوني ته واستول شي. اشخاص د دې غوښتن ه کولو حق لري چې د دوی د طبي ( Michigan Care Improvement Registry ) پاملرنې چمتو کونکي ثبتونې ته د واکسی ن کولو معلومات ونه لیږ ي.

Pashto translation provided by Immunize.org